# د مينې سندرې

## په درو ژبو : پښتو، عربي، انګليسي کې

د فن آره او ستړه ښکلا ده، او اديب تل د ښکلا له اغېزو څخه برخه لري، د جمال او ښکلا تعبير د اديب کار دئ، ښکلا پر دوه ډوله ده :

د فطرت او طبيعت ښکلا.

دوهم د انسان جمال او د بنيادم ښکلا.

د ادب لوړ مقياس هم دغه دئ، چې د دغو دوو ښکلاوو تعبير په ښه ډول سوی وي. د يوې ټولنې ادبي لوړتيا هم دغه ده چې ادب يې د ښکلا د مظاهرو په رشتيني شعور او تودو احساساتو ډک وي.

هغه اديب چې د جمال او ښکلا له ستايني څخه برخه لري، او د ښکلا مينه يې له وينا څخه ښکاري، د ادب له پلوه د قدر وړ دئ، ځکه چې طبيعي او انساني ښکلا د فن ستړه ده او د ادب د ونې مندکه بلله کېږي، نور څه که وي هغه به يې ښاخلې او پاڼې وي.

مينه تل له جماله زېږي او ځکه چې کاينات د ښکلا په پلوشو ښايسته دي، نو مينه هم ورسره تړلې ده. هم له دغه لامله هر ملت او هره ټولنه د "مينې سندرې" لري او د ادب اساسي او مهم ټوك هم دغسې عشقي بدلې دي.

د مينې سندرې چې د يوه ولس په ادب کې ترقي کوي، او لوړتيا او خپورتيا مومي، ځانله مخصوص چاپېر او ماحول غواړي، يعني دغه ونه په هر هر ځای کې نه شنه کېږي او د هرې مځکې بزغلی نه دئ.

د مينې د سندرو د ودې او لوړتيا له پاره هسې چاپېر ښايي چې خلك يې نه خورا عياشان او بډايان وي او نه ډېر خواران او بې وزلي.

ښايي چې د اخلاقو له پلوه نه ډېر ضعيفان او بې سېکه او نه ډېر پسمن او مغرور وي.

ښايي چې ډېر بدوي او وحشيان هم نه وي او په مدنيت کې هم د ډېر نفاق درجې ته نه وي رسېدلي.

دا ولې؟ له دې جهته چې فقيره او بې وزلې جامعه د ګېډې په وير اخته وي، دې ته نه وي خلاصه چې خپل نفسي عواطف په عشقي بدلو کې ووايي. دغسې هم د ډېر عياش ملت اخلاق وران وي، مينه پر خپله پاکي نه پکښې پاتېږي. هم دغه ډول ډېر ضعيف او بې سېکه ملت نه ادب لري نه مينه، او نه له جماله خوند اخيستلای سي. ډېر وحشي خلك هم د جمال په خوند او رنګو ښه نه پوهېږي، او هغه ملت چې له ډېره مدنيته د ماديت په تورو تيارو کې ورك سي، هم د جمالي حظوظو څخه ښه برخه نه سي اخيستلای.

نو ځکه داسې ويلای سو چې د مينې د سندرو د ودې له پاره يو مساعد محيط او ښه اورشو او سم چاپېر په کار دئ.

د عربي ژبې د مينې د سندرو ترقي د جاهليت په عصر کې ښه وه. خو د اموي خلافت دوره لا ښه ورته مستعده وه او ټول شروط يې پر ځای وه. نو ځکه ډېر لوړ لوړ شعراء پيدا سول چې د دوی د مينې سندرې خورا ښې دي.

جميل، کثير، قيس، عوره بن حزام، ابن الدمينه، ابو صخرا لهذلي، ابن الطثريه، هغه نوموړي شعراء دي چې د مينې په سندرو کې ګړندي دي.

د دې عصر د ميني سندري ټولي هغه ښېګنې لري چي د داسي بدلو له پاره لازمي دي، تاوده عواطف، سپېڅلی بيان، د شعور رشتياوالی، د مقال عفت، د جمال ستاينه، د ميني د پټو خواوو ښکاره کول ټول پکښې سته، او دا عصر د عربو د ميني د سندرو له پاره طلايي عصر ګڼلای سو.

وروسته چي اموي عصر تېر سو، او د ډېر عشق او عشرت زمانه راغله، نو په جامعه کي د "صادق حب" مظاهر هم ورک سول، اخلاق ضعيف سول، مفاسد ډېرېدل، د منځو خرڅول رانيول دوني ډېر سول چي د مېرمنو قدر يې کم کړ، په داسي فاسد محيط کي نو مينه فقط شهوت سوه، "صادق حب" ورک سو د ميني سندري هم ورسره ورکي سوې، سبب يې هم دغه و، چي داسي سندري په هغه ځای کي ويلي کېږي چيري چي جمال او ښکلا وي چيري چي عفت او پاك لمني وي !

اما لکه العذري چي ويلي دي : د ميني سندري په داسي ځای کي نه ويلي کېږي چي د هر چا يوه مينځه خوښه سوه هغه ژر په پيسو رانيسي، او د ځان مال يې وګرځوي.

تر دې دورې وروسته پر عربو يوه بله زمانه راغله، د نشاط او ځلميتوب وخت يې تېر سو، خلك په لوړه اخته سوه، د ګېډي وير د هر چا ملګری سو، نور اقوام پر راغله او دوی هغو ته ټيټ سول، نو په داسي چاپېر کي هم د ميني سندري له خلکو څخه هېري سوې د زوړتيا او کهولت عصر راغی.

عباسي دوره د عربي شعر له پاره ښېخي بده نه وه که څه هم عيش و عشرت پر خلکو غالب و، خو بيا هم د پاچهانو صلې او د شاعرانو مدايح او ستايني هومري ډېري دي چي د ادب مخه ټوله هغې خوا ته ده.

په دغه دوره کي عربي شعراء دوې ډلي دي :

لومړۍ ډله داسي ده، چي په خپله هم په عيش کي ډوبه ده او شعر يې هم د عشرت په ستايلو ډك دئ، لکه بشار، ابو نواس، چي دوی د ابن ابي ربيعه شاګردان او د هغه په مسلك کي غرق او ډوب دي. دوهمه ډله هغه شاعران دي چي نسبتاً له شهوي دنيا څخه ليري، او لمني يې پاکي دي، مګر سره له دغه هم د ميني له نړۍ څخه پوره او بشپړه ترجماني نه سي کولای، دوی د ميني سندري لولي، مګر په تقليدي ډول او هم تل پخپلو بدلو کي د تکلف پر خوا روان دي. په بديعي ښېګڼو کي ډېر زيار کاږي، خو د ميني له دنيا څخه ناخبره دي.

په دې ډله کي بحتري، طايي، شريف، مهيار، هغه شعراء دي چي د دوی په مينه کي د ميني تودوالی نسته او نه د عشق رښتينی وصف څني ښکارېږي ! نو ځکه هيڅوك د دې عصر تقليدي د ميني سندري له پخوانيو رښتينو عشقي بدلو سره نه سي سمولای.

***

د انګرېزي ژبي د ميني سندري هم دغسي دورې لري، خو رښه دوره يې د اليزابت وخت و، چي ټول هغه شروط پکښې يو ځای سوي وو، دغه دوره د ميني د سندرو له پاره د شباب وخت و، ښايي، عقلي نهضت، متين اخلاق، ټول په دغه وخت کي وه، نو ځکه د دې عصر خلکو تل د ميني رشتيني سندري ويلې، د خلکو بوميا او قدوه هم هغه ملکه وه چي د جمال او ثقافت څخه يې ښه برخه درلوده او شاوخوا يې هم هسي غښتلي خلك ټول سوي وه چي پر وچه او لنده يې د دې سطوت خپراوه، نو ځکه د شکسپېر، سپنسر، بن جونسون په اشعارو کي د ميني حقيقي مظاهر وينو.

وروسته ځيني متشدد خلك غالب سول، دا مملکت يې د يوې صومعې په ډول د وقار مرکز کړ، خوندونه او خوښۍ يې

ورکي کړې، د چړګوړو وژل یې هم منع کړل، د تمتع او سرور لاري یې وتړلې، نو په دې وخت کې کټ مټ لکه عربي د انګرېزي ژبې د میني سندرې هم وچې کلکې سوې او د زمولتوب او رکود دوره یې راغله.

د دې دورې رد فعل او عکس وروسته شروع سو، لکه د عربو عباسي دوره، د انګرېزي ژبې (18) قرن هم د میني د سندرو له خوا خوار دئ، د پوپ، اډیسون، جونسو په اشعارو کې د ښکلا او جمال ځلا او پلوشې نه وینو، او نه د طبیعي او انساني جمال ستاینه پکښې سته.

وروسته چې د رومانسي نهضت دور راغی، نو دلته بیا د جمال مینه غالبه سوه او خلک د فطرت خوا ته وګرځېدل، خپل پخوا ته یې وکتل او د اتلتوب (بطولت) کیسې یې ور په یاد کړې، کولر ډج، کیټس، شیلي د فطرت په ښېګڼو ننوتل او د انساني جمال په ستاینه بوخت سول. د کیټس ځیني اقوال په دې باب کې اوس د متلو په ډول ویل کېږي، مثلاً : "د ښکلي شي نه تېرېدونکې خوښي ده". یا دا چې : "ښکلا حقه ده حقتوب ښکلا ده"، "دلته هر څه سته او هر څه ځني زده کېږي".

نو د انګرېزي ژبې د میني بدلي ټولي په طبیعي ښېګڼو او ستاینو ډکې دي، ادباو تل لکه مصورین ښکلي مناظر تصویر کړي دي او هر یوه د خپلي میني، جمال او ښکلا په هغو اوصافو او تشبیهاتو سره بیان کړېده، چې د فطرت له لمني څخه یې اقتباس کړی دئ، دغو ادیبانو ته د فطرت ښکلي مظاهر د عشق په لار کې مرستي دي او د میني فلسفه هم له دغو څخه زده کوي، د عاشق او معشوقې تر منځ هم دغه مظاهر د امین او صادق ریبار کار ورکوي.

مثلاً شیلي وایي :

"لښتی په ولو ګډېږي، ولې په دریاب کې تویېږي، هواوي او بادونه هم خوږې ساوي پکښې پوکي.

نو په نړۍ کې هیڅ شی یوازې نه دئ، ټولو شیانو د خدای امر منلی دئ، یو له بله سره ګډېږي، نو به ولې مونږ دوه له دې لږه وزو او سره بېل به یو؟".

مارلو وایي :

"دلته راسه ! راسره اوسه !

چې د شنو دښتو، لویو غرو، پټیو، مامتو د لیدلو خوندونه ټول ومومم".

ټنسون ویلي دي :

"ټول ځنګل تك شین سو، نو ته ولې لکه پاڼه په غوړېدلو کې ځنډ کوې؟ او خپل زړه په مینه نه زرغونوې؟"

وولر وایي :

"اې ښکلی سوره ګله ! هغې ته ولاړ سه !

هغې ته چې نه راځي، هم زما هم خپل وخت تېروي !

هغې ته ولاړ سه ! چې که زه تا ته د هغې په نظر وګورم نو به ته هم راته ښکلی او ښایسته وایسې !

ولاړ سه، هغې کوچنوټې ملالۍ تهووایه :

که زه په لیرو دښتو کې شین سوی وای، هیڅ انسان به زما له ښایسته نه و خبر، خو زمول سوی به وای.

اې سوره ګله ! بیا نو د دې په مخ کې ورژېږه ! مړ سه، چې ستا له حاله د هر ښکلي او ګران شي پای ور معلوم سي او دا ورته ښکاره سي چې د ښکلا وخت ډېر لنډ دئ".

په دې ډول انګرېزي شعراوو تل ښکلو فنونو ته په درنه سترګه کتل، او د جمال مظاهر او د دغو د تعبیر وسایل یې په ښه ډول پلټل، د مینو په سندرو کې داسي کوچنۍ کوچنۍ بدلي سته، چې دغه حقایق په ښه ډول ځني څرګندېږي، مثلاً شیلي

ویلي دي :

"د ږغونو ازانګې تر ډېره پوري په زړو کي ګرځي، بنفشه که وچه سي هم یې ښه بوی د چا نه هېرېږي، د ګلاب پاڼې چې ورژېږي هم د ملالي پر بستر باندي خوني کېږي ...

دغسي ... ستا یاد هم تل راسره وي !...".

کولر دج په یوه قصیده کي چې د "میني" په نامه ده، ځان د خپلي محبوبا سره په داسي ډول تصویر کوي، چې هغې د یوه نوموړي سپاره مجسمې ته ځنګ لګولی دي او دی د دې سپاره مجسمې پخوانی د میني داستان په یوه خواږه خیالي اسلوب ورته وایي، د سپاره د احساساتو او عواطفو له بیانه، خپل عواطف په ښه ډول ورته څرګندوي.

***

عربي سندري د طبیعت له ستاینو سره لږ اړه لري، خو بیا هم شاعران خپل سلامونه تل د شمال په ذریعه لیږي او د محبوبا پر کور تل د باران ځاڅکي او اوریا غواړي، له ټپوسه بد وړي، کوتري یې خوښي دي. د عاشق ځلیلاند توب له هغې اوښي سره تشبیه کوي چې خپل جونګی یې ورك کړی وي. د هغو حیواناتو سره رخه کوي چې د محبوبا په کور کې ټاټوبي وي، لکه ابوصخر ا لهزلي چې وایي :

لقد ترکتني اغبط الوحش ان اری

الیقین منها لایرو عهـــما الـــــذعر

د طبیعي مناظرو، ونو، ګلانو، شګو اغېزي هم په عربي شعر کي ډېري لږ دي، انګرېزي شاعر خپل عواطف په ګڼو ځنګلو او ونو کي ښکاره کوي او تل د خپلي محبوبا سره په بڼو او ګلانو کي ګرځي. مګر عربي شاعر له بزمه نه وزي، محبوبا په کور کيویني، په مجلسو او محافلو او پاټاګانو او ښادیو کي ورسره یو ځای کېږي، مثلاً ابن الرومي ویلي دي :

یا لیت شعري هل ببیت مـــعانقي

ویدای من دون الوشاح وشاحه؟

ابو حیه النمیري وایي :

رمـته اناه مــــن ربیــــعه عـــــامر

نووم الضحی فی ماتم ای ماتم

عربي او انګلیسي بدلي په ځینو خواوو کي سره ورته هم دي، شاعران د خپلو محبوباګانو د نومو د پټولو له پاره ځیني خیالي نومونه پخپلو بدلو کي یادوي، مثلاً عربي شاعران هند، لیلی، سعاد د محبوب د نامه په ډول یادوي، چې دا نومونه د پخوانو عربو دي، په انګرېزي کي هم چولیا، الکترا، تیرزا له کلاسیکي ادبه څخه را اخلي او شعراء خپلي محبوبې په دغه نومو ستایي.

دغسي هم په عربي ادب کي ځینو د دین مشاهیرو عشقي بدلي په ښه ډول ویلي دي، مثلاً عروه بن اذینه چې مشهور فقیه دئ ښې د میني سندري لري، او فقیه ابن حزم چې د فقهاوو له نوموړي کورنۍ څخه دئ په "طوق الحامه" نومي کتاب د میني تفصیل او واردات په ښه ډول له خپلو تجربو څخه لیکي.

په انګرېزي کي هم دن، هربرټ، سویفټ او نورو دیني مشاهیرو خورا سپېڅلي او ښې او خوږې د میني سندري په

شعر کي ويلي دي. دغسي هم دواړه ادبه هسي د ميني بدلي لري چي سړي ته خوښي پېښوي يا يې په وير لړي، په آمالو او هيلو او د بېلتانه په غندنو او نورو اوصافو کي د دواړو ژبو عشقي سندري ښې سره ورته دي.

د معانيو په اداء کولو او د مقصد په ښکاره کولو کي هم دواړه ادبه مشترکي لاري لري، مثلاً د کراشو وينا ده : "مخ يې داسي دئ چي بل پسول او ګېڼه نه لري، بېله هغه چي د فطرت سپين لاس وربخښلي دي".

دا تعبير د جميل له دې وينا سره اوړه لګوي : "اذ ابتذلت لم يزرها ترك زينه" يعني "که څيري کالي واغوندي، او پسول ونه لګوي، هم هغسي ده لکه چي وه".

ټنيوسن په يوه قصيده کي وايي : "که مړ سم، او کلونه راباندي تېر سي، خو بيا هم چي محبوبا مي خاورو له راسي، زړه به مي د دې د پښو خوړ کړپی واروي، او په پښو کي به يې ورغړي، او هسي رنګ به وکاږي لکه تګ سور ګل".

دا وينا د توبه الحميري دې شعر ته ورته ده :

ولـــو ان ليلى الاخـــيليه سلمت

عل ودوني جـــــندل و صـــفايح

لسلمت تسليم البـــشاشه او زفـــــا

ا ليها صدي من جانب القبر صايح

عربي ادب ډېر محيطي خصايص هم لري چي هغو ته د انګرېزي شاعرانو فکر هم نه دئ تللی، لکه پر اطلالو درېدل، له رقيبه څخه ګرېوان څېرل، د بيابان او دامان صفت، دغسي هم دا دواړه ادبه جمال ته په بله بله سترګه ګوري، مثلاً عربي شاعر چي د تاوده چاپېره راوتلی دئ، تور وېښتان، خورا توري سترګي، ملال باڼوګان، چاغ بدن خوښوي، حال دا چي انګرېزي اديب سره بخن وېښتان له واوري سره په بريښ کي تشبيه کوي، زرغي سترګي خوښوي او لکه عربي شاعر بشار چي ديرلس کلنه پېغله "بنت عشر و ثلاث" غواړي، په انګرېزي محيط کي خو دغه اومه خوله نجلۍ ګڼي.

يو بل ښکاره توپير هم په دغو دوو ژبو کي ليدل کېږي : عربي شاعر چي عشقي بدلي وايي، نو يوازي خپل فردي عواطف ښکاره کوي، خپله محبوبا ستايي، په پل چا اړه نه لري، مثلاً جميل خپله محبوبا بثينه او توبه ليلی ستايلې ده، اما انګرېزي اديب د بل چا عواطف بيانوي او د بل چا د محبوبا صفت کوي، لکه د شکسپېر په انتوني او کليوپاټرا په رواياتو کي چي ليدل کېږي، يا د هارډي دوسکس په کيسو کي. دلته اديب تل د نورو عواطف او عشقي مواقف څرګندوي او په ترڅ کي يې د خپل ځان موقف او عاطفه ښيي او پر خپله انشاء يو خيالي ښکلي کالي غوړوي.

دا ډول ادبي ابتداع د انګرېزي شاعرانو آثار په احتواء کي ډېر دمخه کوي، ولي چي دوی جمال ته تل په عامه سترګه ګوري، انساني مزايا، اتلوالی بطولت، پهلواني په عام ډول تصويروي، د دوی مينه د مطلق جمال سره ده، نه يوازي له خپلي محبوبا سره نو يې ځکه اشعار د فطرت محاسن عموماً ښکاره کوي او په دې ډول د دوی اشعار تل د فطرت په عمومي مزاياوو ښکلي وي، د جمال مينه مطلقاً پکښي اخښلې وي، له شخصي اغراضو او شهواتو څخه پاك وي، او سړی د حقيقت لمني ته کشوي.

***

تر دې ځايه د عربي او انګرېزي ادب پر عشقي سندرو باندي لږ لږ وږغېدو، اوس به راسو خپله د پښتو عشقي د ميني

بدلو ته چي دا څه خواص لري؟ څنګه دي؟ څوني دي؟

د مقالې په سر کي مو وويل چي : د ميني د سندرو د ودي او خپورتيا له پاره تل مستعد چاپېر او سم محيط په کار دئ، په بېخي وړي او بې وزلي ملت کي څکه عشقي سندري نه وي، چي دوى تل د ګېډي په غم اخته وي، ډېر موړ او بډاى ولس هم عشقي سندري نه سي ويلاى، څکه چي بډايي خلك په عيش او عشرت اخته کوي، ډېر عياش ملت هم د اخلاقو له پلوه کښته ځي او د عشق او ميني پاك او عفيف احساسات يې مري.

موړ چي ګورو د پښتو ژوندون تل پر وسطى مقياس سم راغلى دئ، دوى نه ډېر وړي دي نه خورا بډايان. نو څکه د دوى د اخلاقو او خويونو سطحه هم پر منځني حال پاته ده او په دغسي حالت کي هم د عشق سندري او د ميني نغمې او بدلي د يوه ملت په ادب کي ډېرېږي او وده کوي.

د پښتو په عامي او خاص ادب کي د ميني سندري خورا ډېري دي، او د دې ژبي د ادب مهم ټوك هم دغه د ميني بدلي دي.

په پښتو عشقي بدلو کي چي په وګړني ادب اړه لري، د عشقي بدلو ټول خواص او مزايا موندل کېږي، دا بدلي تاوده عواطف د سرشار عشق سپېڅلي احساسات، د جمال ستاينه، د عفيف عاشق او پاك لمني مين د پاك زړه ږغونه لري، د اخلاقو فساد، د عفت منافي روح کورټ نه پکښي ځرګندېږي.

پښتون مين تل له ښکلا سره مينه کوي او د ښکلا مظاهر يې ټول خوښ وي، محبوبا څکه پر ګرانه وي چي هغه هم د جمال يوه پلوشه ده د پښتنو له خورا پخوانو بدلو څخه رانيولې بيا تر هغه وخته چي د پاړسو ادب اغېزه پر دغه ژبه باندي کېږي، ټول اشعار او بدلي د عشق او جمال ښکلي مظاهر دي.

د پښتنو په عشقي بدلو کي د ملي اخلاقو اغېزه هومري قوي ده  چي ډېر لږ اشعار به ځيني تش وي. د چاپېر او محيط رنګ دوني پکښي غالب دئ چي سړى يې په ويلو سره ګرد محيطي مزايا ليدلاى سي.

د پښتونخوا جګ جګ غرونه، بهاند رودونه، شنه دښتونه، زرغونه بڼونه تل د دوى په عشقي سندرو کي ځان ښکاره کوي، له وګړنيو اشعارو څخه دغه څو مثالونه بس دي :

سپوږمۍ پر سر د آسمان راغله
زه خواره ناسته مرور پخلا کومه
پر لويو غرو د خداى نظر دئ
پر سر يې واوري اوروي کښته ګلونه
پاس په کمر ولاړه ګله !
نصيب د چا يې اوبه زه در خېژومه

وګورئ : پښتنه مينه د خپلي کړدۍ و څنګ ته ناسته ده، مرور يار پخلا کوي دا خو د ميني د نړۍ يوه معمولي واقعه ده، تل يار مرور وي او مينه يې پخلا کوي، مګر دلته د جمال يوه پلوشه هم په ادبي تعبير کار کوي، او دغه جمالي تعبير دئ چي لنډۍ خوږوي، سپوږمۍ د آسمان پر سر راتلل د فطرت د ښايست يو خورا ښکلى منظر دئ، په عين دغه ښکلي منظر کي چي د نړۍ د جمال يوه ترجماني ده، د پخلا کولو د زيار دوام او ډېر وخت تېرېدل هم ښکاره کوي د بيان يو بل کمال هم وګورئ : چي دغه مطلب په څه ډول ادا سوى دئ؟ سپوږمۍ خو د څورلسمي په شاوخوا کي خورا وختي د آسمان سر له راځي، نو دا خبره چي د يار د پخلا کولو مرکې بايد تر نيمو شپو پوري رسېدلي وي فقط له دې څخه چي "سپوږمۍ پر سر د

آسمان راغله" نه څرګندېږي، مګر بې له دې شاعر دغه مقصد په ښکاره ډول افاده کوي، فقط د کلام په نښلولو او سوق کې يې خپل مطلب هسې ښکاره کړی دئ، چې سړی د ورايه پوهېږي.

په دې دوهمه لنډۍ کې د لويو غرو طبيعي منظر چې پر سر يې سپيني واروي پرتې وي، او لمن يې د ګلو ډکه وي، په څنګه ښه ډول تصوير کېږي؟

موږ تل د ادب په دنيا کې د بڼ ښکلي ګلونه، د صحرا ښايسته بوټي، او د ګلو او شګوفو ډک ښاخونه ليدلي دي، شعراء يې تل ستايي، مګر پر کمره پاس ولاړ ګل د پښتني مينې ښکلی فطري او فني تصوير او تخيل دئ.

په دريمه لنډۍ کې خو پښتنه مينه خپل عشقي احساسات څرګندوي، مګر دا خپل احساسات د جمال په يوه ښکلي منظره کې داسې پېچي او نغړي يې چې سړی دا نه سي ويلای چې د شاعر مقصد تش د جمال ستاينه وه که يې خپل عشقي زيار د هغه ګل په اوبولو کې هم ښکاره کاوه؟

له دغو مثالو څخه داسې څرګندېږي چې د پښتو عشقي سندري لکه د انګرېزي دا چې مو وليدلې تل د جمال له پلوه ښکلي کېږي، او د فطرت له لمني څخه اقتباس کوي، د جمال ښکلي مناظر تل د عشق او مينې په سندرو کې د شاعرانو مرستي دي. وګورئ ! شاعر غواړي چې د محبوبا کبر او غرور ترسيم کړي، د دې ناز او ادا وښيي، او ضمناً هم خپله ځواني او نامرادي بيان کړي دا مهم عشقي مطالب فقط په يوه لنډۍ کې سره نغړي، مګر خپل بيان د جمال په ښکلا هم ښکلی کوي، وايي :

پسرلی ستا له کبره خوار سو

چې زرغونو جستو دي مات کړه ژر ګلونه

دلته د عاشق برنده ځواني او د زلميتوب پسرلی، د مينې کبر او غرور بيا په دغه برنده ځواني د مين نيمه خوا کېدل د مينې زرغونې جستې، او د پسرلي د ژړو ګلو پايمالول يو فني او فطري تصوير دئ، چې فقط په پښتنانه شاعر اړه لري، دا خو د وګړني ادب يو څو مثاله وه چې ما دلته راوړل ، په کتابي ادب کې هم دغه ملي ادبي روح هسې ځلېږي چې نظاير يې د دنيا په ادب کې لږ مومو، مثلاً د شيخ متي | دا د ښکلا سندري څنګه خوږې دي؟ او د جمال له کومې لوړي دنيا څخه نکل کوي؟

که لمر روښانه مخ يې سپين دئ

يا د سپوږميه تندی ورين دئ

که غر دئ ښکلی پرتمين دئ

لکه هينداره مخ د سين دئ

ستا د ښکلا دا پلوشه ده

دا يې يو سپکه ننداره ده

دلته لوی غرونه زرغونېږي

د ژوند وږمې پکښې چلېږي

بوراوي شاوخوا کرېږي

سترګې ليدو ته يې هېښېږي

لـــويه خـــــــــاونده ! تږوله ته يې
تل د نړۍ په ښـکلــــــــــېده يې

دمخه مو وويل چې : د عربي ادب د جمال ستاينه تل فردي او شخصي وي او بالعکس د انګرېزي دا مطلقه او جهاني وي، د پښتو ادب ته که ځير سو دغه دواړي خواوي لري، ځکه چې شاعرانو هم د عمومي او فطري جمال ستاينه کړېده او هم د پښتو په کيسو او نکلو کي ځيني محبوباګاني په نامه ستايلي سوي دي.

پښتانه ځيني ملي عشقي کيسې لري، چې په دغو نکلو او کيسو کي د دوی ملي خصايص او عشقي عواطف ښه ښرګنديږي، آدم خان او درخانۍ، ظريف خان او مابۍ، شها او ګلان او نوري ډېري داسي کيسې سته، چې د دغو پهلوانان فرضي نه دي يو وخت دغه د ميني د دنيا اتلان ژوندي وه، او اوس يې هم مزارات خلکو ته معلوم دي.

اما دا شمېر شاعران په خپلو عشقي سندرو کي ځيني د پښتنو مشهور عشقي نومونه لکه عربي او انګرېزي شاعران هغسي راوړي، مثلاً ليلا، محبوبا، شها ، شهۍ او نور داسي نومونه دي چې هر اديب خپله معشوقه په دغو نومونو ستايي او دا نومونه کټ مټ لکه د عربي هند، سلمی، سعاد او د انګرېزي چوليا، الکترا په ډول دي چې د پښتو له کلاسيکي ادبه او کيسو څخه اقتباس سوي دي، مثلاً د شها او ګلان عشقي کيسه په پښتنو کي مشهوره ده، مګر په پښتو ادب کي شها او شهۍ د هري محبوبي له پاره يو عمومي نوم هم دئ او هر شاعر کولای سي چې خپله محبوبا (شها) وبولي، خوشحال خان وايي :

بل مخ مه ګوره خوشحاله !
مخــــامخ شـــه په "شـــها"

احمدشاه بابا وايي :

غم د زړه مه خوره هيڅکله احمدشاهه !
چې د زړه غـــمخوره تل لکه "شها"لـري

په دې ډول دغه درې ادبه يو له بله سره ورته دي او ډېر سره نژدې دي. په هغه بله خوا کي چې ځيني ديني مشاهيرو هم عشقي بدلي ويلي دي او په عربي او انګرېزي ادب کي مو مثالونه در وښوول، کټ مټ د پښتنو ملي او ديني مشاهيرو هم دغسي کړي دي، بلکي زموږ اکثر اجداد هم عشقي بدلي لري، هم په ولايت او تقوا مشهور دي، لکه بېټ نيکه، شيخ متي، احمدشاه بابا، د حاجي ميرويس خان مور او نور پښتانه ادباء لکه رحمان بابا، دولت او نور ...

په اکثرو ادبي تعابيرو او معانيو کي د پښتو ادب د عشقي سندرو همرنګي له عربي او انګرېزي ادبه سره په ښه ډول زياته ده، او هغه معاني او مضامين چې په نورو آدابو کي ليدل کيږي، دلته يې هم وينو، مثلاً د پساله په خصوص کي مو دمخه د کراشو او جميل د وينا نمونې در وړاندي کړې، کټ مټ هغسي مضمون په دې لنډۍ کي هم سته :

ټيك پر تندي مه ږده په سيزم
خو تش اوربل دي هم اورونه لګوينه

رحمان بابا وايي :

مـــخ دي بې خط و بې خـــاله هسي زېب کا
چې يې هيڅ حاجت په خط و په خال نشته

انګليسي شاعر ټنيسون او عربي شاعر الحميري دواړه په يوه ږغ وايي که محبوبا پسله مرګه د دوی خاورو لره ورسي نو به د ميني جذبه دوی راولاړ کړي او زړونه به يې ژوندي سي، عرب او انګليس شاعران دواړه په دې خوا کي د فکر ملګري

سره لري، مګر پښتون شاعر دغه ښکلی فکر په بل راز او خپل دود ادا کوي، دی خو په تورو خاورو کي هم د مين راتګ ژوندی کوي، مګر دا ژوند چي د عشق او ميني يوه بين المللي خاصه ده په پښتونخوا کي محيطي رنګ هم مومي ! پښتون د خپلي پښتونولۍ احساسات او غرايز هم ورسره ګډوي د ده د عظام رميم هره ټوټه په تورو خاورو کي هم له ننګه ډکه وي، وګورئ په دې لنډۍ کي دغه مضمون څنګه راغلی دئ چي نه الحميري ور رسېږي، نه ټنيسون :

د ننګ ټوټه به مي هر هډ وي
که پسله مرګه مي پر ګور راسې مينه !

دلته پښتانه شاعر دا ونه ويل چي : ژوندی به سم يا به له تورو خاورو څخه نارې غلبلې ووهم يا به مي زړه د محبوبا په پښو کي ورغړي. دا تصاوير د عربي او انګليسي شاعر په ذهنيت پوري اړه لري، پښتون شاعر تصريح نه کوي چي ژوندی کېږم، ځکه چي دا خبره ممکنه نه ده، او مستحيله ادعاء شعر له خپلي طبيعي والي څخه باسي. خو وينا يې هسي سره پيودلې ده چي د مړه عاشق ژوند هم ځني څرګندېږي، ولي په ننګ او د پښتونوالي خصايص په ژوندانه اړه لري.

دا خبره په ښه ډول خوندول غواړي چي د پښتانه مين هر هډ تر تورو خاورو لاندي هم د ننګ ټوټه وي، او دا ټوټې کورټ د حيات او ژوندانه خصايص له لاسه نه باسي او تل د پښتانه مين د هډو په ډول پاتېږي.

دا وه د پښتو د عشقي سندرو ځيني مزايا او ادبي خصايص چي لنډ لنډ عربي او انګليسي سره پرتله سول.

د دې څېړني لمن خورا ارته ده او زه نه سوای کولای چي ټوله د ويلو وړ خبري دلته وکاږم، نو ځکه خپله وينا پرېکوم، بيا به سره ګورو.

کابل مجله، ۱۳۲۳ ش کال، ۷ ګڼه، ۱–۷ مخونه.